# پانیني او ژبپوهنه
# (Panini & Linguistics)

## پانیني څوک وو؟

- پانیني د سنسکریت ژبې یو پوهه ماهر (پوهاند) وو، ده د سنسکریت ژبې داسي لنډ، کوټلی او ساینسي ګرامر ولیکلی چي تر ننه پوري باندي څېړني کېږي.

- پانیني د سنسکریت ژبه دومره سوچه او په اصلي (سپېڅلي) بڼه کښي خوندي کړه، چي د سنسکریت ژبې نهه نوي سلنه (٩٩٪) غېرویدي ادب هم د پانیني په ژبه کښې دی.

# سنسکریت(Sanskrit)

- د سنسکریت د کلمې مانا (مهذبه، بشپړه او سمه کړې) ده. د خپل نوم سره سمه دغه ژبه د ویدي ژبې له تهذیب او سمولو څخه پیدا شوه، پوهان په دې خبره کې اختلاف لري، چې ایا کوم وخت دا ژبه ویل کېده که نه؟
- خو دا ښکاره ده چې سنسکریت یوه پخوانۍ علمي او پراخه یا ارته ژبه ده.
- د سنسکریت نوم او د دې ژبې تهذیب او سمول نسبتا نوی کار دی.
- سنسکریت ژبه ویل کېده او که نه ویل کېده؟
- سنسکریت فقط د علم ژبه وه او اکثر پوهان په دې فکر دي چې دا ژبه عموما نه ویل کېده، ځکه چې د عمومي وینا ژبه باید ډېره اسانه او ساده وي.

# سنسکریت(Sanskrit)

- مګر سنسکریت هسي د علم په درنو اندېیو اده ژبه ده، چي عوام يې کورټ نه شي زده کولای او تاريخ هم دا نه ښکاره کوي چي يو وخت دا ژبه د عوامو ژبه وه.
- په خپله د هند برهمنان وائي: چي يو وخت دا ژبه د هند په شمالي خواوو کې ويل کيده.
- خو وروسته د دې ژبې نورې ځانګي پراکريت يعني فرعي ژبې باندې غالبې شوې او دا فقط د علم لپاره مخصوصه شوه او هم د پوهانو او ديني خلکو په مينځ کښې محصوره پاتې شوه او لکه چي پوهان وائي، د دې ژبې پوهانو د مقدس والي له جهته نه غوښتل چي عوام او هر څوک دا ژبه زده کړي يا يې واوري.
- نو ځکه د کتابو او پاڼو په منځ کې ژوندۍ وه، خو ويکل کېدله نه. (د پښتو ادبياتو تاريخ)

# د پانیني زمانه؟

- محققین په دې کښې اختلاف لري.
- پروفیسر ماکس مولر د مهارشي پانیني د ژوند زمانه د څلورېمې قبل المیداد د صدۍ په مینځ کښې ښودلې ده.
- زیاتره څېړونکي د پانیني د ژوند زمانه د څلوریمې او شپږېمې قبل–مېلاد (4-6 BC) په منځني پړاو کښې ټاکلې ده.

# د پانیني د زیږیدنې ځای:

- ایس، ایم، جیټر د پانیني د زیږیدنې د ځای په هکله لیکي.
- (The modern village of Lahore ancient Salaitura, the birth place of Panini, the famous grammarian of India, stands at a distance of some six miles east to Jalamghari on the road to Swabi.)

- ژباړه: د لرغوني سلاطوره / سلاطیره د لارهور نوی کلی د هندوستان د نامتو ګرامر پوهه پانیني د زیږیدنې ځای دی، چې د جمال ګړهی ولمرخاته خوا ته د شپږ میله په واټن باندې د صوابۍ پر لاره پروت دی.

# د پانیني قام، قبیله

- پانیني یو کورنۍ نوم دی چي مطلب یې د پني (Pani) له پښت/ نسل څخه دی.
- د پانیني د مور نوم دکسي(Daski)
- د ماما نوم ویادي(Vyadi)
- ځیني پوهان د پانیني د ورور نوم پنګالا (Pingala) او د پلار نوم پني (Pani) یادوي

# د پانیني تحصیلات

- مهارشي پانیني خپل تحصیلات د پخواني ګندهاره (Gandahara) د سیمې په تکښشیلا (Taksasila)مدرسه کښې تر سره کړل.

- په سنسکریتي علمو کښې د تبحر درجې ته رسیدلی وو، ځکه نو د هندوستان پخوانیو خلکو (مهارشي) باله او د درو وتلو ملایانو (Trimuni) لومړی سړی یې ګڼلی.

- پخوانیو هندوستانیانو د ده ویناوو ته د الهامي وینا وو سروتي (Sruti) په سترګه کتل.

# د پانیني ګرائمر / وياکرڼ
# (Vyakarana-Grammar)

پانیني د ویدي دور سنسکریت ژبه ، چې مانا یې مهذبه، بشپړه او سمه کړې ژبه، چې هغه وخت یې ډېرې لهجې وې، سره چاڼ کړه او د دې ځخه یې یوه سوچه، منطقي او کلاسیکي ژبه جوړه کړه.

## د پانیني ګرائمر په اصل کښې څلور برخې لري:

- ۱ – اشټ ادهیائي (Ashtadhyayi or Astaka)
- ۲ – شیواسترا
- ۳ – داتو پاتا (Dhatupatha)
- ۴ – ګانا پاتا (Ganapatha)

# اشټ ادهیائي یا اته بابونه :(Ashtadhyayi)

د پانیني مهم او اصلي کتاب اشټ ادهیائي دی.

- و دي ته اشټ ادهیائي ځکه وائي چي پر اتو (۸) بابونو باندي مشتمل لري. او بیا هر باب په څلورو فصلونو یا وړو بابونو باندي تشکیل سوی دی.

- په دې کتاب کښې په څلور زره سترا (اصولونه-ارونه) کښې د ګرائمر ټول قواعد بیان شوي دي.
- پانیني د سنسکرت ژبه په خپلواک (Vowel)او بیواک (Consonant) اشتقاقي، نحوي (Syntax)او صرفي یا ګړپوهه (Morphemic)اصولونه ترتیب کړه.

- د سنکرت صرف (ګړپوهه- (Morphology)(۳۹۵۹) اصولونه یې شرح کړل.

# داتو او ګانا پاته

## داتو او ګانا پاته

- په دې داورو ضمیمو (Annexations) کښې د فعلونو او د لغاتو فهرستونه ورکړل شوي دي او د صرفي جوړښت قاعدې هم په تفصیل سره تشریح شوې دي.

## شیوا سترا:

- دصوتیاتو (اوازونو) برخه ده. دا د ږغ د اخراج (ایستلو، تلفظ، وینګ) لار/وضع بیانوي.